نورمحمد لاهو ۲۰۲۱/۰۹/۰۷

زما د پوهنتون د وخت ملګری

(لنډه کیسه)

احمد به همیشه صنف ته ناوخته راته ،استاد به ددرس ورکولو په حال کي ود صنف دروازه به خلاصه شوه اودده سراوغوږ به راښکاره شول.

استادانو به هم څه ورته نه ویل ، موږ ټولو ته سوال پیدا و چې احمد ولې دایم ناوخته راځي.
درخصتۍ وخت به چې شو تر ټولو به ناوخته له پوهنتونه وت ،یوه ورځ استاد وویل چې نن تر ناوخته پورې باید واوسو ځکه له درسونو شاته پاتې شوي یو.

موږ هم په پټه خوله داستاد درس ته غوږ ونیو او د هغه دخبرو په زړه پوري ټکي موږه کتابچو کې لیکل کله چې له صنف څخه راووتو ګورو چې په پوهنتون کې هیڅ څوك نه دي پاتې ، ټول محصلین خپلو کورونو ته تللي وو شاته مو وکتل ګورو چې احمد نشته پوښتنه مو وکړه چې احمد څه شو زموږ یوې هم صنفی وویل چې هغه بیرته صنف ته لاړ ویل یې چې کتابچه مې په صنف کې پاتې شوې ده.

احمد به همیشه کوشش کاوه چې درخصتۍ وخت کې له خپلو ملګرو ځان ورك کړي ، په دا درې کالو کې زما نه یادیږي چې دی دې زموږ سره یوځای له پوهنتونه وتلي وي زموږ اکثره ملګرو شخصي موټر درلودل ځینې به له هغو سره تلو ،موږ به له ځانو سره ویل شاید نه به غواړي چې له موږ سره ناسته ولاړه ولري خو چې دده خوي ته به موکتل ډیر خوږ ژبی او مهربان هلك و همیشه به یې یو تور کمیس او کوبای پطلون په ځان کې و.

له کالیو یې ښکاریدل چې اقتصادي حالت یې ښه نه و په صنف کې هم نسبت موږ ته په درسونو کې ډیر تکړه و داستادانو به ورسره ډیره جوړه وه، کله کله به چې کوم استاد ته ضروري کارپیداشو نو ده ته به یې خپل لکچر نوټ ورکاوه چې محصلینو ته درس ورکړي.

احمد سره له دې چې سراوکال به یې یوه جوړه دریشي اغوسته خوبیاهم د جونو ډیر خوښیده ، ده به چې کله خبرې کولې نو زموږ صنفیانې به پرې راټولې وې او دده ټوکواو خبرو ته به یې خندل ، موږ ته به یې ډیر زور راکاوه اوویل به مو چې دغه خوشبخته ته وګورئ ، که دی شتمن وای څومره جونې به یې خریدارې وې.

نن هم درخصتۍ په وخت کې یې له موږه ځان ورك کړ ، زموږ یو ملګری چې لطیف نومیده اودیر شوخ هم و وویل چې نن خو زه احمد څارم او په دې ځان پوهوم چې دی ولې همیشه ترټولو ناوخته له پوهنتونه وځي.

زه هم ورسره شوم ځکه ماسره هم له پخوا دغه سوال و، دپوهنځي په طرف وخوځیدوڅوقدمه تللي نه وچې له لیرې مو په احمد سترګې ولګیدې چې دګڼو ونو منځ ته ننوت ، زموږ تلوسه نوره هم زیاته شوه او له ځانوسره مو وویل، دی به دلته څه کوي؟

موږ دواړه ورپسې شوو ، احمد شاته نه کتل ، موږ دونو نه لیرې ودریدو او منتظر شو او یوبل ته مو وویل چې له څه ځنډ وروسته به موږ هم دونو منځ ته شو، لطیف راته وویل چې زه اوته باید دکانتین شاته پټ شو ، ماپې خبره

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ومنله له کانتین څخه مو لږ چپس راواخیستل او هلته لیري ودریدو له ځنډ وروسته مو په احمد سترګي ولګیدې، ژر دکانتین شاته شوو ، ګورو چې احمد یوډیر زوړ بایسکل له غوږه رانیولی له ونو راووت ،د بایسکل کانجوغه هم نه وه، نواحمد په یوه لاس کتابونه په بل لاس پې بایسکل له انډله نیولی و وروسته پې پښه پرې وروړوله او غوښتل پې په چټکۍ له پوهنتونه ووځي چې یوناڅاپه له بایسکیله غږ پورته شو، احمد په ښۍ پښې بایسکل ودراوه ، داسې ښکاریدل چې برکونه پې هم سست و نژدې دسړك په مخ لویدلی و.

وروسته پې بایسکل یوې خو اته څملاوه ، دبایسکل زنځیر خطاوتی و ،لکه یوه غله چې ډیرې پیسې غلاکړي وي او دپولیس دلیدو ویره ورسره وي ژر ژرپې شااوخواته وکتل ، پوره نیم ساعت چنګاو وه دبایسکل زنځیر پې نه شو اچولی ،کله پې چې جوړ کړ نو دکتابچې یوه سپینه پاڼه پې وشکوله اوپه ګریسو ککړ او تور لاسونه پې پرې پاك کړل وروسته پې بایسکل ودرواوه او پښه پې پرې واړوله ، خودا ځل پې په ډیر وروسره بایسکل زغلوه لکه زړه پې چې ډاډه شوي وي چې چا نه دی لیدلی نو په هسك سرپې داخوا او هغه خوا کتل.

۲۰\لندی\۱۳۸۶
وزیراکبرخان
ن: لاهو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ